# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# د انسان د غمونو شروع کیدل



لیکونکے: Edward Hughes
خیال: Byron Unger; Lazarus
Alastair Paterson
خوښونکے: M. Maillot; Tammy S.
ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries
مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

BFC
PO Box 3
Winnipeg, MB R3C 2G1
Canada

©2020 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.





**خدائ پاک هر څیز جوړ کړو!** چې کله خدائ پاک ړومبے انسان آدم پیدا کړو، هغه خپلې ښځې بی بی حوا سره په باغ عدن کښې اوسیدو، هغوئ ډیر خوشحاله وو او د خدائ پاک تابعداری به یې کوله.خو یوه ورځ څهٔ وشو ...


"مار د حوا نه پوښته
وکړه، رښتیا خدائ پاک
وئیلي دی چې د باغ عدن
د وني نه میوه مهٔ خوره؟حوا ورته په
جواب کښې ووئیل" چې مونږ د هرې
وني نه میوه خورو خو بغیر
د یوې وني نه او کهٔ مونږ
د هغه وني نه میوه وخوړه
نو مونږ به مړه شو.
3


مار ورته په خنده
کښې ووئیل. "چې تاسو
به نهٔ مرئ. او تاسو به
د خدائ په شان شئ" نو
حوا د دې وني میوه
خواړل غوښتل. هغې د
مار خبره واوریدله او
هغه مېوه یې وخوړله.
4


د خدائ د حکم ماتولو نه پس حوا هغه
آدم له هم ورکړه چې وی خوری. آدم
له دا وئیل پکار وو، چې نه! زهٔ د
خدائ پاک د حکم نافرمانی نهٔ کوم.
5


چې
کله
آدم
او
حوا
دا گناه
وکړه. نو
هغوئ دا پته
ولگیده چې مونږ دوره بربنډ یو. هغوئ د ځان د پاره
د انځر د پاڼو نه لنگونه جوړ کړل. خپل ځانونه یې پټ
کړل او خدائ پاک سره د مخامخ کیدو په وجه هغوئ
خپل ځانونه په ونو کښې پټ کړل.
6


د ماښام په وخت کښې خدائ پاک باغ ته راغلو. او هغهٔ
ته دا پته وه چې آدم او حوا څهٔ کړی دی. نو آدم په
حوا الزام ولگولو او حوا په مار الزام ولگولو،
نو خدائ پاک هغوئ ته ووئیل مار به همیشه
لعنتی وی او حوا تهٔ به ډیر درد سره بچي
پیدا کوې. "آدم، په دې وجه چې تا گناه
کړې ده، نو ستا په وجه
زمکه لعنتی شوه نو تهٔ
به هم ټول په ازغو او غنو کښې
محنت او مشقت
کوی. او د خپل تندی د
خولی روټئ به خوری".
7


نو د دې په اوس
خدائ پاک آدم او بی بی
حوا د هغه ښائسته او مکمل باغ
نه بهر ووستل. ځکه چې هغوئ
گناه وکړه، او هغوئ د ژوند
ورکونکی خدائ
نه جدا شول.
8



بیا خدائ پاک په باغ کښې د
اور یو توره جوړه کړه چې د
باغ خفاظت کوي. او خدائ پاک
د آدم او د حوا د
پاره څرمن د
چرته نه وخسته؟
9




وخت تیریدو سره سره د آدم او د حوا یو زوئ پیدا شو. د
هغهٔ مشر زوئ قاهن زمیدار وو. او دویم زوئ یې هابیل
شپون وو.
10




یوه ورځ قابیل د خپل فصل څهٔ غله مالک خدائ ته د نذرانې
په توګه راوړله. او د هغهٔ ورو هابیل هم د خپلو رمو نه یو
ښائسته ګډورے رواستلو چې خدائ ته یې د
نذرانې په توګه پیش کړی. نو خداي هابیل
او د هغهٔ نذرانه
قبوله کړه.
11




خداي پاک د قابیل د نذرانې نه نهٔ وو
خوشحال. نو د دې په وجه قابیل ډیر
زیات خفه شو. خو خدائ ووئیل،" کهٔ
تهٔ ښهٔ هم وکړې نو قبول به نهٔ شې؟"
12




یو ورځ پس چې هغه په خپل پټی
کښې وو نو قابیل په ورور هابیل
باندې حمله وکړه او هغه یې ووژلو.
13




خدائ قابیل نه پوښته وکړه،"ستا ورور هابیل چرته دے؟"
نو قابیل دروغ ووئیل، چې ما ته پته نشته ولې زهٔ د خپل
ورور څوکیدار خو نهٔ یم."خدائ پاک قائین له سزه ورکړه
او ورته ووئیل تهٔ په زمکه په محنت او
مشقت کوې خو هغه به تا له هیڅ
پیداوار نهٔ درکوی. او تهٔ به په
زمکه یو
سرګردانه یې.
14



قابیل د خدائ د حضور نه لرې کړے شو. او هغهٔ د آدم او
حوا لور سره وادهٔ وکړهٔ.او د هغوئ نه یو لوئ خاندان جوړ
شو. ډیر په تیزئ سره هغه ښار کوم چې
قابیل جوړ کړے وو د هغهٔ د بچو نه
ډک شو.

15



په هغه وخت د آدم او د حوا خاندان
په تیزئ سره زیات شو. د نن په
نسبت به د هغه خلقو عمر ډیر وو.

16



بیا چې کله د حوا زوئ شیث پیدا شو نو هغې ووئیل چې
خدائ پاک ما له د هابیل په شان زوئ راکړے
دے. شیث د خدائ یریدلو او د هغهٔ ټول عمر
نهٔ سوه او دولس کاله ووز او د هغهٔ ډیر
زمن او
لونه پیدا شوی.

17



کله چې په زمکه خلق زیاتیدل، نو هغوئ ډیر
ظلمونه شروع کړل. نو په آخر خدائ پاک
دا فیصله وکړه چې ټول مخلوق ختم کړی
ټول ځناور او مارغان.؟ او د انسان په
پیدا کولو خدائ
خفه وو.
خو یو سړے
وو چې د هغهٔ
نه خدائ خوشحاله
او راضا وو.

18



دا سړے نوح وو. هغهٔ د شیث په اولاد کښې یو بې
گناه انسان وو. هغهٔ خپلو دریو زمنو ته هم دا
حکم ورکړو چې د خداي پاک تابعداری
کوئ. اوس خدائ پاک
نوح ته یو خاص
او عجیبه
منصوبه
وښودله.

19

د انسان د غمونو شروع کیدل

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښ دا قیصئ

شته دے

پیدایښت 3-6

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."
زبور 119:130

20

# ختم شو



دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون وموم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲